DET HÄR ÄR EN ÖVERSÄTTNING TILL PASHTO AV FAKTABLADET DET SVENSKA VACCINATIONSPROGRAMMET FÖR BARN.

# د ماشومانو لپاره د واکسیناسیون سویډنی پروګرام

په سویډن کی ټول ماشومان د نهو جدی ناروغیو په مقابل کی د وړیا واکسیناسیون حق لری. ټولونجونو ته د هومانت پاپیلوم ویروس(HPV) لپاره د واکسین کولو وړاندیز هم کیږی. دغه واکسیناسیون د ماشومانو په کلینیک او په ښوونځی کی د زده کوونکو د روغتیا په برخه کی ترسره کیږی.

| د درمل اندازه | د لاندی ناروغیو په مقابل کی واکسیناسیون | تولګی عمر | |
|---|---|---|---|
| د درمل1 اندازه | دفتریا یا خناق، کزاز، توره غاړه یا شنه ټوخی، پولیو یا ګزڼ، ب ډوله هیموفیلی انفلونزا یا د فیفر باکتریا، پنیوموکوک | | ۳ میاشتنی |
| د درمل 2 اندازه | دفتریا یا خناق، کزاز، توره غاړه یا شنه ټوخی، پولیو یا ګزڼ، ب ډوله هیموفیلی انفلونزا یا د فیفر باکتریا، پنیوموکوک | | ۵ میاشتنی |
| د درمل3 اندازه | دفتریا یا خناق، کزاز، توره غاړه یا شنه ټوخی، پولیو یا ګزڼ، ب ډوله هیموفیلی انفلونزا یا د فیفر باکتریا(Hib)، پنیوموکوک | | ۲۱ میاشتنی |
| د درمل1 اندازه | شری یا سرخکان، کله چرک، سرخک یا حصبه | | ۸۱ میاشتنی |
| د درمل4 اندازه | دفتریا یا خناق، کزاز، توره غاړه یا شنه ټوخی، پولیو یا ګزڼ | | ۵ کلن |
| د درمل2 اندازه | شری یا سرخکان، کله چرک، سرخک یا حصبه | ۲-۱ | |
| د درمل-2 1 اندازه | هومانت پاپیلوم ویروس(HPV) (اچ پی وی) (دنجونو لپاره) | ۶-۵ | |
| د درمل5 اندازه | دفتریا یا خناق، کزاز یا تیتانوس ، توره غاړه یا شنه ټوخی | ۹-۸ | |

- دماشومانو کلینیک
- د زده کوونکو د روغتیا برخه

## واکسیناسیون څه شی دی؟

واکسیناسیون په دی مانا دی چه سړی بدن ته د ناروغی د ساری مادی یوه برخه داخلوی، یا په ضعیفه توګه ټوله ساری ماده. دا کافی نه ده چه سړی به هیڅ ناروغه نه شی، مګر دا کافی ده چه یوه دفاعی قوه منځ ته راشی. که سړی بیا وروسته د همغه سرایت سره مخامخ شی نو د بدن دفاعی قوه به تیاره وی او کولای شی چه د دی نه د مخه چه ناروغی منځ ته راشی، دغه ساری ماده خنثی کړی.

## واکسیناسیون په کوم ډول تر سره کیږی؟

ټول واکسیناسیون په خپله خوښه دی، او دا به ته د پلار یا مور په حیث تصمیم نیسی چه آیا ستا ماشوم واکسین شی یا نه شی.

دغه واکسینونه نوی زیږیدلی ماشومانو ته په ورانه کی او لویو ماشومانو ته په مټه کی پیچکاری کیږی. د هغه واکسینونو په هکله معلومات چه د ماشومانو لپاره د سویډن د واکسیناسیون د پروګرام په چوکاټ کی کیږی، د واکسیناسیون یوه ملی راجستر ته استول کیږی. د دغه راجستر په مرسته په آسانه توګه معلومیږی چه څومره کسان واکسین شوی دی او دا چه د واکسیناسیون په مرسته ناروغی کمیږی او تر کنټرول لاندی نیول کیږی.

## د سویډن د واکسیناسیون د پروګرام په چوکاټ کی د کومو ناروغیو په مقابل کی ماشومان واکسین کیږی.؟

. دفتریا یا خناق د ستونی یو ساری او جدی عفونت دی چه کیدای شی د ماشومانو د سا بندیدو سبب وګرزی. د دفرتریا باکتریا یو داسی زهر تیتوی چه له نورو نه پرته زړه، بډوډو او عصبی سیستم ته د ژوند لپاره خطرناکه ژوبله ورسوی.

کزاز د یوی داسی باکتریا نه منځ ته راځی چه په ځمکه او د حیواناتو په غایطه موادو کی موجوده وی. دغه باکتریا کولای شی زخم عفونی کړی او یو داسی زهر جوړ کړی چه د سخت تشنج او د سا ایستلو فلج منځ ته راوړی، کله کله سړی مړ کیږی. دا ناروغی له یوه چا نه بل چا ته سرایت نه کوی.

توره غاړه د هوا د کانالو یوه ډیره ساری عفونی ناروغی ده چه کیدای شی د ټوخی د سختو حملو سره د څو میاشتو په بهیر کی ادامه ولری، او د سږی د التهاب سبب وګرزی. د نوی پیدا شوی ماشومانو لپاره دغه نارو غی کیدای شی ډیره سخته او حتی ژوند ته ګواښ کوونکی وی.

پولیو د ویروس یوه داسی ناروغی ده چه د ک کړو اوبو په وسیله تیت کیږی. په سویډن کی تر ۰۵۹۱ لسیزی پوری ډیر کسان د پولیو له ناروغی نه مړه کیدل او یا به فلج شول او یا به د ژوند ګواښ کوونکی ژوبلی ورته رسیدلی. . خو په سویډن اونورو ملکونو کی د ښی حفظ الصحی او عمومی واکسیناسیون په اساس دپولیو ناروغی په پوره توګه له منځه تلی ده.

ب ډوله هیموفیلی انفلونزایوه داسی باکتریا ده چه د چټکو خپریدونکو عفونتونو سبب ګرزی، په خاصه توګه له ۵ کلو نه لاندی ماشومانو ته. که اچ.ای.بی د مغز د غشا د التهاب یا د وینی د مسمومیت سبب شی نو د پنځو نه تر لسو فیصده پوری امکان

لری چه سری مړ شی. کوم کسان چه ژوندی پاتی شی نو د تل لپاره به داسی ژوبلی ورته پیدا شی چه هغه به بیا جوړی نشی، لکه کونوالی یا مرګی.

پنوموکوک داسی باکتریاوی دی چه د سطحی عفونت سبب ګرزی لکه د غوږو او د پوزی د سوریو التهاب، مګر دا باکتریاوی کولای شی د جدی ناروغیو سبب شی، لکه د سږو التهاب، د وینی مسمومیت او د مغز د غشا التهاب. دغه واکسین په بدن کی د ساتنی ښه قوه منځ ته راولی تر څو د هغه ناروغیو په مقابل کی چه د پنیوموکوک د هغه ډول باکتریاوو نه چه په واکسین شامل دی منځ ته راځی، دفاع وکړی.

شری یا سرخکان یوه ډیره ساری او په زیاتو حالاتو کی آزار ورکوونکی ناروغی ده چه د تبی، توخی او په پوستکی کی د بخار سبب ګرزی. دا کولای شی عواقبی ناروغی لکه د مغز، غوږو او سږی التهاب منځ ته راولی، او داسی هم پیښیږی چه خلک د سرخکان نه مری. د دی ناروغی کوم درمل نشته.

کله چرک یوه داسی ویروسی ناروغی ده چه د هر څه نه د مخه د لاړو غدی او مرکزی عصبی سیستم ته ژوبله رسوی. عادی عواقبی ناروغی د مغز د غشا او د مغز التهاب دی چه کولای شی غوږو ته دایمی ژوبله ورسوی یا د کوڼ والی سبب وګرزی. هغه هلکان چه د بلوغ نه وروسته ناروغه شی کیدای شی د کلفوری یا بیضه په التهاب دچار شی چه دا کیدای شی د دوی د عقیم توب علت وګرزی.

سرخک یا حصبه په عادی توګه د لویانو او ماشومانو لپاره یوه بی خطره ناروغی ده، مګر که یوه حامله ښځه په دی ناروغی اخته شی نو د سقط جنین خطر به موجود وی یا دا چه د جنین مغز، زړه، سترګو او غږو ته به ډیره ژوبله ورسیږی. د واکسین په برکت ډیره موده پخوا په سویډن کی داسی یو ماشوم پیدا شوی وه چه د سرخک په علت د مور په نس کی ورته ژوبله رسیدلی وه، د دی په نتیجه کی چه د هغه مورته په سویډن کی ناروغی سرایت کړی وه.

هومانت پاپیلوم ویروس(HPV) د ویروس یو داسی ډله ده چه پوستکی او مخاطی غشاوی عفونی کوی. په زیاتو حالاتو کی دا عفونت نه لیدل کیږی او په خپله جوړیږی، مګر ځنی کسانو ته چه عفونت سرایت وکړی د ډیری مودی په عفونت دچاریږی چه امکان لری د ډیرو کالونو په بهیر کی د دوی په بدن کی پاتی شی. دا عفونت کیدای شی د رحم په غاړه کی د حجراتو د بدلون سبب وګرزی او په آینده کی د رحم د غاړی سرطان منځ ته راولی. واکسین د اچ.پی.وی. ډوله په مقابل کی چه د زیاتو سرطانی پیښو علت کرزی، د بدن نه دفاع کوی. د اچ.پی.وی. واکسین په هکله زیات معلومات په «د نجونو لپاره د اچ.پی.وی په مقابل کی واکسین" معلوماتی پاڼو کی موجود دی.

## نور واکسینونه

هغه ماشومانو ته چه په ځنی ناروغیو د اخته کیدلو د زیات خطر سره مخامخ وی، د زیاتو واکسینونو وړاندیز کیږی. دا به هیپاتیت بی یا تور زیړی، نری رنځ، انفلونزا او د سږی د التهاب عفونت وی )د ځنی ماشومانو لپاره توصیه شوی واکسینونو معلوماتی پاڼی وګوره(

## د واکسین کولو نه کوم معافیت منځ ته راځی؟

د هغه ماشومانو چه واکسین شوی وی زیاته برخه د جدی ناروغی په مقابل کی یو ښه معافیت په لاس راوړی. یو شمیر ماشومان یو پوره معافیت په لاس نه راوړی، مګر څرنګه چه په سویډن کی ډیر خلک واکسین شوی دی او په دی توګه ناروغی په ټولنه کی نه خپریږی نو دغه ماشومان بیا هم په ښه توګه مصئون پاتی کیږی.

## کوم جانبی عوارض منځ ته راځی؟

د واکسین شوو ماشومانو زیاتی برخی ته کوم جانبی عوارض نه پیدا کیږی، یا دا چه یوازی کوم خفیف جانبی عوارض ورته پیدا کیږی. په عادی توګه احتمالی فرعی جانبی عوارض د څو روځو په بهیر کی له منځه ځی.

### د دفتریا، کزاز، شنی توخی، پولیو، اچ.ای.بیHiB ، پنیوموکوک او اچ.پی.وی HPV په مقابل کی واکسیناسیون

**عادی:** )د ۱۰۰ واکسین شوو نه اقلا ۱ ته پیدا کیږی(: سورتوب، پړسیدل او په پیچکاری شوی ځای کی درد، لږ تبه، اسهال، استفراق.

**نوی پیدا شوی ماشومان:** لږ لیدل شوی )د ۱۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ( یا زښته کم لیدل شوی )د ۱۰۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ(: د څو ساعتونو په بهیر کی داسی ژړا چه نه آرامیږی، ادامه لرونکی یا د سانتی ګراد تر ۳۹ درجی جګه تبه، ډیر پړسیدل یا سور کیدل، د تبی تشنج، سستوالی او رنګ الوتل ، بخار.

**لوی ماشومان:** لږ لیدل شوی )د ۱۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ( یا زښته کم لیدل شوی ) :د ۱۰۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ(:ادامه لرونکی یا د سانتی ګراد تر ۳۹ درجی جګه تبه، ډیر پړسیدل یا سور کیدل، بخار، د الرژی یا حساسیت عکس العمل.

### د شری یا سرخکان، کله چرک، سرخک یا حصبه په مقابل کی واکسیناسیون

**عادی:** )د ۱۰۰ واکسین شوو نه اقلا ۱ ته پیدا کیږی( سورتوب، پړسیدل او د ستنی په ځای کی درد. ځنی ماشومانو ته یو داسی عکس العمل پیدا کیږی چه د ناروغی یوه خفیف ډول ته ورته وی، په عادی توګه د واکسین نه وروسته د ۱ یا ۲ اونیو په بهیر کی تبه او بخار. ماشوم ساری نه وی او ستونزی د څو شاوروزو په بهیر کی له منځه ځی. د واکسین د دوهم پړاو نه وروسته دا عکس العمل ډیر لږ وی.

**لږ لیدل شوی** )د ۱۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ **(یا زښته کم لیدل شوی** )د ۱۰۰۰۰ واکسین شوو نه د ۱ نه لږ( د مفصلو داسی لږ درد چه ورکیږی، د تبی تشنج، د حساسیت عکس العملونه.

## دواکسیناسیون ګټې اونقصانونه

هیڅ داسی درمل نشته چه هیڅ خطر ونه لری، مګر د عامی روغتیا د مقام قضاوت دا دی چه د ناروغیو خطر په ملاحظی وړه توګه د واکسیناسیون نه ډیر دی.

## بهر ته د سفرکولو په صورت کی دی ته پام وکړی

بهر ته د سفرکولو نه د مخه کیدای شی چه ماشوم کوم واکسین ته د مخه اړتیا ولری، او کوم نور واکسین به لازم وی. د ماشومانو د کلینیک یا د واکسیناسیون د څانګی سره تماس ونیسه.

**دی ته پاملرنه وکړه!**

**د واکسین کولو نه د مخه:** ووایه چه آیا ستا ماشوم ناروغه دی، یا کومه ناروغی یا حساسیت لری، یا پخوا د کوم واکسین نه وروسته ده کوم عکس العمل ښکاره کړی وه یا نه.

**د واکسین کولو نه وروسته:** که چیری له واکسین نه وروسته ستا ماشوم ښه نه وه، ته باید د ماشومانو د کلینیک، په ښوونځی کی د زده کوونکی د روغتیا څانګی یا روغتیایی موسسو سره تماس ونیسی. د روغتیایی چارو کارکوونکی باید د ټولو هغه عکس العملو راپور ورکړی چه د واکسیناسیون سره کومه اړیکه لری، بیله دی څخه چه آیا د دی علت واکسین وه یا نه وه.

د خپل ماشوم د واکسیناسیون په هکله ته باید ښه خبر اوسی، دا کار کولای شی د ماشومانو د کلینیک د کارت یا کتاب یا په کومه بله توګه وکړی.

FOLKHÄLSOMYNDIGHETEN, JULI 2017 ISBN PRINT 978-91-7603-695-2 ARTIKELNUMMER: 16069 GRAFISK PRODUKTION: AB TYPOFORM

Folkhälsomyndigheten
PUBLIC HEALTH AGENCY OF SWEDEN

**Solna** Nobels väg 18, 171 82 Solna **Östersund** Forskarens väg 3, SE-831 40 Östersund.
www.folkhalsomyndigheten.se